AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۰۱/۱۷

# د افغانستان ـ هند اړیکې او د پاکستان اندېښنه

افغانستان یو خپلواک هیواد دی او د نړیوالو قوانینو له مخې بشپړ حق لري چې خپله بهرنۍ تګلاره پخپله خوښه او د خپلو ګټو په چوکاټ کې وټاکي. پاکستان د نړیوالو پرنسیپونو، حقوقي اړخونو او اخلاقي چوکاټونو له مخې هیڅ ډول حق نه لري چې د افغانستان او هند ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او کلتوري اړیکو د پراختیا مخالفت وکړي. د دولتونو ترمنځ ملي حاکمیت ته د درنښت او د یو بل په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه کولو اصل هېڅ دریم هېواد ته اجازه نه ورکوي چې د بل هېواد د بهرنیو اړیکو په تړاو سرې کرښې وکاږي یا ورباندې د ویټو حق وغواړي.

پاکستان له اوږدې مودې راهیسې د افغانستان او هند نږدې کېدونکو اړیکو ته له پاکستان سره د دښمنۍ په سترګه کتلې دي، خو بالعکس افغانستان ته د واهکه بندر له لارې له هندوستان څخه د توکو واردولو اجازه نه ورکوي. د پاکستان اندېښنې نه حقوقي بنسټ لري او نه هم داسې بیلګه شتون لري چې افغانستان کله هم د هندوستان په ګټه د پاکستان په وړاندې د دښمن هېواد په څیر تګلاره خپله کړې وي. د پاکستان اندېښنې د دغه هېواد او هندوستان ترمنځ د تاریخي تاوتریخوالي د نفسیاتي اړخ انعکاس دی چې د «ستراتېژیک ژوروالي» له ناکامې مفکورې څخه سرچینه اخلي. د اسلاماباد له نظره، د هند سیاسي او اقتصادي حضور هم په افغانستان کې ډېری وخت د عادي دوه اړخیزو همکاریو پر ځای د امنیتي ګواښ په توګه انځور شوی، حال دا چې دغه ذهنیتونه، که هر څومره ژور هم وي د مفروضو پربنسټ ولاړ دي او د اعتراض مشروع حق نه شي رامنځته کولای.

د اسلام اباد دریز هغه مهال لا کمزوری کېږي چې پاکستان د خپل تاریخ په پاڼو کې خپل تېر چلن ته وګوري. په ۲۰۰۱ کال کې پاکستان د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ګولن پاول په یوه تلیفون امریکا ته اجازه ورکړه چې د افغانستان پر ضد د هوایي بریدونو او عملیاتو لپاره له خپلو بندرونو، فضایي حریم او نظامي اډو څخه ګټه واخلي. د پاکستان هوایي حریم ورته پرانیستل شو، ځینې پوځي اډې امریکایي ځواکونو ته وسپارل شوې، او د کراچۍ له بندر څخه د اکمالاتو لارې د کلونو لپاره د امریکا او ناټو د عملیاتو ملاتړ ته اوږه ورکړه . که پاکستان کولای شي چې یو لرې نړیوال ځواک ته د افغانستان پر ضد د مستقیم نظامي برید لپاره دومره پراخې اسانتیاوې برابرول توجیه کړي، نو بیا افغانستان ولې نشي کولای چې له هند سره سوله‌ییزې سیاسي، اقتصادي او کلتوري اړیکې ولري.

که پاکستان دا استدلال کوي چې افغانستان باید له هند سره خپلې اړیکې محدودې کړي، نو دا منطق باید پر خپله پاکستان هم یو شان تطبیق شي. پاکستان له امریکا او نورو سترو قدرتونو سره ژورې سیاسي، پوځي او اقتصادي اړیکې لري چې د افغانستان پر امنیتي او سیاسي وضعیت یې مستقیم اغېز لرلی دی. نړیوالې اړیکې د دوه‌ګوني معیار منلو ته غاړه نه ږدي، چې یو هېواد ځان ته هر څه روا وګڼي خو هماغه حق له بل څخه اخلي.

د هند او پاکستان ترمنځ د تیرو جګړو په مهال د افغانستان د واقعي بې پرېتوب تګلارې ته په کتو د افغانستان او هند ترمنځ اقتصادي او کلتوري اړیکي د پاکستان لپاره باید د هیڅ ډول اعتراض کولو یا حساسیت ښودلو لامل نه وای ګرزیدلې. سوداګري، ترانزیټ، زده‌کړې، روغتیایي همکاري او کلتوري تبادلې د شخړو او جګړو عوامل نه دي، بلکې د ثبات، ټولنیز پرمختګ او د باور جوړونې بنسټونه جوړوي . پر دغو برخو اعتراض کول په اصل کې امنیتي د اندېښنو څرګندونه نه کوي بلکې د سیمه‌ییز اتصال او ګډو پرمختګونو پر وړاندې د خنډونو اچولو هڅه ښکاري. زما په اند، افغانستان او پاکستان دواړه باید نه د سترو قدرتونو ترمنځ د رقابتونو په ډګر کې د سیالي ابزار وګرزي او نه هم د یو بل په وړاندې د نیابتي جګړو په ډګر بدل شي. افغانستان کله هم د هند لپاره د پاکستان ضد سنګر نه دی ګرزیدلی دی او نه هم باید وګرزي، او پاکستان هم باید د افغانستان پر سیمه‌ییزو انتخابونو باندې ځان امنیتي ساتونکی و نه ګڼي. همدارنګه، هېڅ یو هېواد باید اجازه ورنه کړي چې خاوره، هوایي حریم یا سیاسي نفوذ یې د بل پر ضد د بهرنیو اجنډاوو لپاره وکارول شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

يوه متوازنه، د ملي ګټو پر بنسټ ولاړه بهرنۍ تګلاره، چې د متقابل درناوي، سیمه‌ییز اتصال او د یو بل په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه کولو اصولو ته ژمنه وي، نه یوازې د افغانستان مشروع حق دی، بلکې د پاکستان ستراتېژیکه اړتیا هم ده. د پاکستان لپاره د افغانستان په تړاو د ستراتېژیک ژوروالي تګلارې څخه خپله لاره جدا کول د افغانستان حق او د پاکستان لپاره داسې اړتیا ده چې کولای شي په سوېلي اسیا کې اوږدمهاله ثبات، سیمه‌ییز باور او ګډه سوکالي تضمین کړي.

د پاکستان د لوړپوړو چارواکو افغانستان ته تکراري اخطارونه، ګواښونه او ننګوونکي ویناګانې نه یوازې بې اغېزې دي، بلکې تاوان رسوونکي هم دي. دغه چلن سیاسي فضا نوره هم خرابوي، سیمه‌ییزې اندېښنې زیاتوي، او د دواړو هېوادونو د ګټورو اړیکو او دوه اړخیزو همکاریو جوړولو فرصتونه له منځه وړي. د ګواښونو او ننګونو تګلاره نه اوږدمهاله امنیت رامنځته کولای شي او نه هم ښه ستراتیژۍ ګڼل کېږي، بلکې شونې ده چې دواړه هېوادونه په اوږدمهاله توګه د شکونو او غبرګونونو په سیاستونو کې ونښلوي. غوره لار داده چې پاکستان له افغانستان سره د خبرو، د باور جوړونې او د هندوستان په ګډون له نورو هېوادونو سره د اړیکو په برخه کې د دغه هېواد خپلواکو پرېکړو ته د درناوي له لارې تعامل وکړي. د زور کارولو او وېرې اچولو له مخې نه، بلکې د ګډ تفاهم او دوه اړخیز درنښت پربنسټ ولاړې تګلارې دواړو هېوادونو ته دا امکان برابروي چې د ثبات، سیمه‌ییزو اړیکو او ګډو ګټو لپاره **مناسب چاپېریال رامنځته کړي.**

**پایله:**

په سوېلي اسیا کې اوږدمهاله ثبات او سوله د ګواښونو، انحصاري سیاستونو ، او د سلیقوي تعبیرونو پر بنسټ نشي ټینګېدای. له هند یا بل هر هېواد سره د افغانستان سیاسي، اقتصادي او کلتوري اړیکې د دغه هېواد مشروع او قانوني حق دی او پاکستان ته هیڅ ډول بالفعل او بالقوه ګواښ نه رامنځته کوي. د افغانستان د بهرنیو اړیکو د کنټرول هڅې هغه ناکامه تګلاره ده چې یوازې بې‌باوري ژوره کوي او هغه امنیتي ذهنیت پیاوړی کوي چې دواړو هېوادونو ته یې درانه زیانونه اړولي دي. په راتلونکي کې د افغانستان او پاکستان د اړیکو څرنګوالی باید د ګواښونو پر ځای د یو بل حاکمیت استقلال او خپلواکۍ منلو، د خبرو اترو پر دوام، او سیمه‌ییزې همکارۍ ته پر ژمنتیا ولاړ وي. د «ستراتېژیکي ژورتیا» له زړې نظریې څخه لاس په سر کېدل ، او د یو بل د مشروع انتخابونو درناوی یوازنۍ تګلاره ده چې دواړه هېوادونه د شک، وېرې او تقابل پر ځای د ثبات، اتصال او ګډو پرمختګونو پر لوري بیایي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ